انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

۱۴ مارچ ۲۰۱۳

# سوړ ژمی او د زیارکښانو ستونزمن ژوند

په افغانستان کی د نورو بی شمېره ستونزو ترڅنګ، بیکاري هم ډېره پراخه ده، چی اصلی قربانیان یی زیارکښان دی. دا بیکاري په ژمي په تیره بیا د کابل په ژمي کی له حده اوړي. کارګران په ډېره ناهیلی په ژمي کي ژوند کوي او د وزګارتیا او بیکاری ډېرې سختی ورځی تیروي.

په ژمي کي د یوې خوا بیکاري او له بلې خوا د اجناسو او توکو او په خاصه توګه د لرګیو او ګازو قیمت ډیر لوړیږي چي دا وضعیت د کارګرانو ژوند د ډیرو مشکلاتو سره مخامخ کوي. هغوی په اوړي کی هومره عاید نلری چی ژمي ته پری چمتووالی ونیسي، نو ځکه نه یواځی په کور کی څه نلري بلکی د ژمي په زیاترو ورځو کی تش لاس کور ته ستنیږی. کارګران د ژمي په سړه هوا کی څلور لارو کی په ختو، بارانونو، واورو کی کارموندني لپاره انتظار وباسي. ځینی د کار نه موندني له امله سوالګری ته مخه کوي او ځیني یی په کوڅو کی ګرځي ترڅو د ډیر لږو پیسو په وړاندې د کورونو واورې پاکې کړي.

کوم زیارکښان چی په فابریکو، معدنونو، سوداګریز مرکزونو او داسي نورو ځایونو کی کار کوي، په ژمي کي هم استثمار کیږی او د اړتیا په وخت کی ورته رخصتي نه ورکول کیږی. د کراچیو چلوونکي او نور لاسي خرڅوونکي زیارکښان چی د خرڅلاو لپاره ټاکلی وخت او ځای نلري، مجبوره دي چی په شدیدې واورې او یخنی کی د کار لپاره بازار ته وځي. هغوی له رنځونو ډک ژوند لري. زمونږ د وطن زیارکښان د ولږیتوب، د سونګ توکو نشتون، د تاودو جامو نشتون، د درملنی، رخصتی او د سرپناه نشتون او د لسګونو نورو داسي ستونزو سره لاس او ګریوان دي چی مجبوره کیږي خپل ماشومان هم دې ته اړ باسي ترڅو کار وکړي او ان کله خو د خپلو کوچنی ماشومانو خرڅولو ته هم مجبوره کیږي.

د دې تر څنګ د پولیسو بد چلند، کنځلی، سپکې سپورې، توهین او تحقیر هغه څه دي چي زیارکښان ځوروي. د دې ځوریدلو سره، خارجیان هم د زیارکښانو په کړولو اخته دي، هغوي وژني، په اسارت یي نیسي، کورونه ورته بمباروي او د ژمو په شپو کي د هغو پر کورونو چاپې اچوی او د «تروریست» په نامه یي په یخ ژمي کي زندانونو ته بیایي او کورنه یي په ویر او ماتم کښینوي.

دا ښکاره خبره ده چي سوړ ژمی بالاخره پای ته رسیږي او د خپلواکی پسرلی رارسیدونکی دی. په دې پسرلي کي به زیارکښانو نور درد او رنځ ونه پیژني او په آزادی کي به ژوند وکړي.